# سریزه

الحمدلله والصلا ة والسلام على سيدنا رسول الله وخا تم ا لانبياء محمد بن عبدالله وعلى آله وصحبه ومن وا لاه وعلى من اتبع هداه فى شئون حياته يوم الدين .امابعد :فاعـــوذباالله من الشيطن الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم ة

كله چې نړۍ له انسانانو بې برخې وه دا مهال هيڅ ساکښ دځمکې پرمخ غوړيدلی قدم نه ؤايښی او چوپه خوره فضا وه خو څو شيبې لانه وې تيرې شوې چې يو عجيب او غريب خلقت دځمکې مخ ته داسې پيغام راوړ چې هيڅا يې تصور نه شو کولی تر دې چې دځمکې واکمني يې دخلافت په نوم ورته وسپارله او هرڅه ئې ورته تابع کړل ترڅو داسې رياست پر مخ يوسي چې مثال يې لاتر اوسه نه وي پيداشوی، نو دهمدې سره جوخت ددولت کليمې خپل مقام تر لاسه کړ او په خپلوټولوچار و کې يې موجوديت په ثبوت ورساوه دوخت په تېرېدو سره دنړۍ په هرګوټ، ګوټکې دافرادو تعداد زيات او بيلا بېل قدرتونه رامنځته شوچې ټول په خپل مربوطه معين قلمروکې په فعاليت لګيا وه ،خو ددوی فعا ليتونو ډير ابتدايي شکل درلود او نه يې شوکولی چې د ټولنې هراړخيز جوانب ترکنترول ،ا و مرا قبت لاندې ونيسي، بلکې هرڅه دوخت دځواکمنانو په خوښه ترسره کېدل هماغه ؤ چې د ټولنې افراد يو بل سره داسې نږدې شول ترڅو واحد مرکزي قدرت ته تابع وي چې له ډيرو هلو ځلو وروسته نړيوال په رښتيا هم پدې بريالي شول چې پخپله اړونـده ټولنه کې داسې سياسي تشکيلات ايجادکړي چې ديوې خوا دټولنې ګټې او منا فع او د بلې خوا د ا تباعو حقوق اوامتيا زات حمايت کړي تردې چې دغه سياسي تشکيلات ددولت تر عنوان لاندې يو د بل پسې ترتيب او تنظيم شول.

Ketabton.com

نن ورځ هر بشر پدې پوهیالی چې پرته له ټولنې او دولت ژوند کول يو ګران او ستونزمن کار او حتی ناممکن دی ،نو په همدې منظور دځمکې پرمخ مختلف ارګانونه موجود دي ترڅو په ټولنه کې له يوې خوا نظم او امنيت برقرار او د بلې خوا خپلو اتباعو ته په مختلفو ساحو مثلاً سياسي،اجتماعي،اقتصادي اوداسي نوروکې سهولتونه برابرکړي ،د بلې خوا دولتونو ته په بين المللي سطحه يو لوړ مقام حاصل دی او د عمومي بين المللي حقوقو يوه مهمه موضوع تشکيلوي ،نو ما هم د خپلې تحصيلي دورې په پای کې غوره وګڼله تر څو د «د نړيوال جګړيز اصول» تر عنوان لاندې يو څه معلومات راټول کړم، زما موضوع د درې فصلونو درلودونکې ده چې په لمړي فصل کې مې د دولت په رابطه تعريفات،په تيوريکي او عمل لحاظ د دولتونو رامنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کیدل د بحث لاندي نیولي په دوهم فصل کي مي د جګړې حقوق یانړیوال بشرپال بحث کړي او په دريم فصل کي مي د نړیوال جګړیز او په اصول باندي بحث کړي دي چه انشاءالله هر موضوع به په تفصیل سره د بحث لاندي ونیسم .

**موضوع تګلاره :**

لکه څرنګه چي دا موضوع يوه ډيره مغلقه او پيچيده موضوع ده نو په همدي بنا موږ نه شي کولاي چي دا موضوع موږ د ميداني يا تحليلي څيړني له لاري څيړو نو لازمي ده چي د دي موضوع په څيړنه کي د کتابي روش او تګلاري څخه استفاده وکړو چي په دي ليکنه کي موږ د مختلفو کتابونو او ليکوالانو د نظرونو او انټرنيټي سايټونو څخه استفاده کړي ده هيله مند يم چي لوستونکي ته ورڅخه موثره ګټه پورته کړي او علمي تنده يې پوره ماته شي .

نړۍ ډيرو اړونده سازمانونو او د نړۍ پرمختللو هيوادونو له خوا منل شووي دي په اړوند يي صراحت ورکو او پري بحث کوو اميد وار يم چي تر ډيره بريده مو د جګړيز اصلو اصلي تصوير څرګند کړي وي .

**د موضوع پلان :**

لکه څرنګه چي موږ مخکي هم يادونه وکړه چي دا موضوع يوه ډيره پراخه موضوع ده نو په همدي اساس موږ دا ليکنه په دريو فصلونو لمړي مو بيا په دريو مبحثونو چي عمومي معلومات ، پيژندنه او د جګړي د نړيوالو حقوقو منابع او دويم فصل مو بيا په څلورو مبحثونو ويشلي چي جګړي حقوق ، جګړي مفهوم د نړيوالو حقوقو له نظره د جګړي عناصر او د جګړي بشرپاله حقوقو بنستيز حقوق او دريم فصل موبيا په دوه مباحثو ويشلي چي جګړيز اصول د اسلام د نظره او جګړيز اصول د ژينوا د کنوانسيون له نظره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لـومړی فصل

## عمومي معلومات

څرنګه چې د جنګ نړيوال حقوق،هم په ملي او هم په نړيواله سطحه موضوع ده،خو له بلې خوا دا داسې يوه موضوع ده چې اکثره وخت د نړۍ د لويو قدرتونو د جنګاليو لخوا د پښو لاندې شوې ده.ددې سبب دا کيداې شي چې له يوې خوا د تاريخ په اوږدو کې د جنګ لپاره څوک د کومو قواعدو مقيد نه وه،د بله اړخه په نړيواله کچه کومو الزامي جنګې قواعدو هم وجود او شتون نه درلود ،او ښه جنګيالې هغه ګڼل کېده چې په خورا وحشت خپل دښمن وځپي،اندامونه يې پرې کړي،دارائي يې لوټ کړي،دسړو څخه يې غلامانو او ښځو څخه يې د جنسي اهدافو او غرايزو د پوره کولو کار واخلي.

اسماني اديانو په دې اړوند وخت په وخت خپل تعليمات نړيوالو ته عرضه کړي دي چې د وخت په تيريدو يا هير شوي دي او يا هم تحريف شوي دي،چې له دې منځه د اسلام مبارک دين نه يواځې د سولې په وخت کې بلکې د جنګ په وخت کې هم خپل پيروان بې لارښوونې پرينښودل او د جنګ مکمل اصول يې ورته وړاندې کړه،چې ددې بحث په اوږدو کې به ځاې په ځاې د پرتلې په ضمن کې ورڅخه يادونه وشي.

### لومړي مبحث: جګړې دنړيوالوحقوقوپيژندنه

د جګړې نړيوال حقوق د بشردوستانه حقوقو،يوه څانګه ده،چې نظر و هغه پراختيا،تکامل او تحول ته چې نوموړي حقوق يې له يوې ورځې څخه بلې ته کوي،ددې خبرې ايجاب کوي ترڅو د نړيوالو حقوقود يو مستقلې رشتې او د يو جامع سيستم په حيث تبارز وکړي.

فلهذا د جګړې نړيوال حقوق د عمومي نړيوالو حقوقو د قواعدو او مقرراتو هغه مجموعه ده کوم چې د انساني افرادو د حقوقو د حمايت په ضمن کې،که هغه جنګيالې وي يا غيرجنګيالې،همدارنګه د غير نظامي اموالو او د ښکېلو طرفونو حقوق په جګړه کې ولو که جګړه بين المللي يا غير بين المللي وي.په دواړو صفتونو کې د دغو ښکېلو اړخونو واجبات او مسوليتونه هم تعينوي يا يې تر مطالعې لاندې نيسي.

همدارنګه د جګړې يا د جنګ حقوق داسې هم تعريف شوي دي.د جنګ حقوق د هغه بين المللي حقوقو د قواعدو مجموعې ته ويل کيږي چې د متخاصمو هيوادونو پر مناسباتو د جګړې په وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې حاکم وي.همدارنګه د هغه قواعدو مجموعه ده چې د متخاصمو اړخونو او بې طرفه هیوادونو ترمنځ په مناسباتو حاکم وي.علاوتا د جنګ حقوق پر غیربین المللي مخاصماتو لکه داخلي منازعاتو او نورو باندې هم څارنه کوي،ځیني هغه خلک چې د جنګ د لفظ مخالف دي هغوي د حقوق جنګ او بشر دوستانه حقوقو ترمنځ تفکیک کوي خو ځیني په دې عقیده دي چې بشردوستانه نړیوال حقوق د جنګ د حقوقو یوه برخه تشکیلوي چې حمایوي جنبه لري،حمایوي جنبې څخه یې هدف د ټولو افرادو څخه که هغه نظامیان وي او که غیري نظامیان،او یا هم غیري نظامي اهداف او اموال وي.

همدارنګه د ټولو هغه مواردو حمایت چې افراد او هیوادونه د جنګ په وخت کې د هغه رعایت کولو ته التزام او تعهد لري.دا پداسې حال کې دي چې د جنګ د حقوقو د بلې برخې محتویات لنډ موضوعات تشکیلوي،لکه د جنګ مفهوم،متقابله نظامي اشغال او بالاخره د بې طرفۍ موضوع.

## دویم مبحث – تاریخي سیر

ټولني له پیدا ایښت څخه ترننه د انسانانو تر منځ جګړې شوي دي ،وکیږي دغه جګړې دوخت په تېریدو سره د یو لړ مقرراتو او پرنسیپونو تابع ګرځول شوي دي.

مثلاً په لرغوني زمانه د (حمورابي)په لوایحو کې د ښنتو او جګړو په اړه ځیني لارښووني موجودې وې.[1] خو دجګړې د حقوقو په اړه لومړنۍ او مدون قانون چې په لومړي ځل د یوه دولت لخوا د وسلوالو ځواکونو لپاره جوړ شو د (لیبرقوانینو)ټولګه وه.

دوضعي قوانینودغه ټولګه دامریکایي حقوقپوه (فرانیس لیبر)لخوا په

۱۸۶۳مکالکېت دوینشو.لیبردغه ټولګه دامریکاددولت په غوښتنه چمتو کړه.

په دې ټولګه کې د هغو سرتېرو د کړنو او سلوکونو په اړه مقررات ځاي پر ځاي شوي وو.چې امریکا په کورنۍ جګړه کې ښکېل وو،خودا یوازې یو کورنۍ یا ملي قانون وو چې د امریکا متحده ایالتونو دننه یې د جګړې حقوق په ډاګه کول.

---

[1] بیګدلي محمد رضاضیایي،حقوق بین اللملي بشردوستانه،مخ،۲۶ ،۱۳۹۴ ،انتشارات ګنج دانش،تهران ایران
بیګدلي محمد رضاضیایي، حقوق بین اللملي عمومي،مخ،۵۵۵ ،۱۳۸۴ ، انتشارات ګنج دانش،تهران ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نړيوالوعمومي حقوقوکې اوسني نړيوال بشر پال حقوق ديوه سويسي سوداګر اوبشرپال (هنري دونانت)له هڅو سرچينه اخلي.په ۱۸۵۹مکالکېدفرانسياواتريشترمنځپه (سلفرنيو) سيمه کې يوه سخته خونړۍجګړههرامنځته کيږي په دې جګړه کې عامه خلکوته سخته مرګژ[2]وبله اوړي.
د جګړې په ميدان کې هري خواته مړي او زخميان پراته وي او څوک نه وي چې رسيدنه ورته وکړئ.سويسي سوداګر هنري دونانت ددې صحنې په ليدوسخت خواشيني کيږي اود (سلفرينوخاطراتو)پنوم يو کتاب ليکي.نوموړي پدي کتاب کې په سلفرينو کې دبشري جنايت او تېري دغندنې ترڅنګ وړانديز کوي چې د بشري خواخوږۍ له مخې دې په جګړه کې زيانمنو او ټپيانو ته بايد لازم امکانات او مرستې برابرې شي دونانت همدارنګه وړانديز وکړ چې دغه هدف درسيدو لپاره لومړۍ بايد دغړو هېوادونو ترمنځ يو تړون لاسليک شي اوبيا دغه تړون د اجرا لپاره دې يوه کميټه جوړه شي.

هنري لمړي وړانديز په ۱۷۶۳مکالکېدجينوا کنوانسيون د لاسليک لامل شو د جينوا د ۱۸۶۳مکالکنوانسيون په حقيقت کېداوسني وبشردوستانه حقوقولومړنۍعمليه څه ګڼل کيږي.همدارنګه ده نري دويم وړانديزله مخې دجګړې له قربانيانواوپه جګړه کېدبشري حقونودرعايت موخه به دسره صليب کميټه جوړه شوه.

که څه هم جينوا ۱۸۶۳مکالک نوانسيون دجګړې په ډګرکې دټپيانوتردرملنې پورېم حدودو،خودجګړې بشرپاله حقونوپه برخه کېدالومړنې ګاموچې راتلونکودغه دولتونونواومهاهدوت هيېلاره پرانيسته دجينيواد۱۸۶۳مکالترلومړي تړونوروست دجګړې په ډګرکې دبشري حقونودرعات په برخه کې درې الحاقې پرتوکولونه په ترتيب لاسليک شوي چې شرحه يې په لاندې ډول ده.

۱-دپاريساعلاميه۱۸۵۶

۲-دټپيانو،ناروغانواودروغتيايېکارکونکوپه اړه دجينيواکنوانسيون۱۸۶۳مکال.

۳-ديوشميروسلودنه کارونې په اړه سنپټرزيورګاعلاميه۱۸۶۸مکال.

۴-دنظامي او غيري نظامي وګړو تر منځ د توپير څرګندولو په اړه د بروکسل اعلاميه ۱۸۷۴مکال

[2]مخ،۲۵۶۱اميدي ،علي.حقوق بين الملل :از نظريه تا عمل .تهران ،نشر ميزان،۱۳۸۸ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵-دځمکنیوجګړوپه برخه کېدقوانینواوعرفونودرعایت اودسمندري جګړوپه اړه دجینیوادی ۱۸۶۳مکالدمقرراتودپلي کیدویاپلي کولوپه موخه دلاهایک نوانسیون۱۸۹۹مکال.

۶-د ۱۸۹۹م کال پر کنوانسیون د بیا کتنې لپاره د لاهاي د۱۹۰۷مکالکنوانسیون.

۷-دروغتیايي خدمتونودچمتوکوونکوبېړیودناپیلتوب په اړه ژمن لیک۱۹۰۴مکال.

۸-په جګړه کېدزه رجنوبي هوښه کوونکویانوروګازونواوبیالوژیک یوسلودکارونې دمخنیوي په اړه دجینیواپروتوکول۱۹۲۵مکال.

۹-له جنګ ېاسیرانوسره دچلندپه اړه دجینیواکنوانسیون۱۹۲۹مکال.

۱۰-ټولوژني یاجینوسایډدمخنیوي نړیوال کنوانسیون۱۹۴۸مکال.

۱۱-دجینیوا د ۱۹۴۹مکال څلورمک نوانسیون چې لاندې اساسي موضوعات په کې تصویبشول.

۱-دجګړې په ډګرکېدوسلوالوځواکونودټپیانو او ناروغانو ژوند ته پاملرنه.

۲-په سمندرکېدوسلوالوځواکونوټپیانو،ناروغانواودویجاړوشوي وبېړي وبیرته پاتي شونوژوندته پاملرنه.

۳-له جنګې اسیرانوسرهچلند.

۴-دجګړې پرمهال له ملک یوګړوڅخه ملاتړ.

۱۲-دسمندري جګړې په اړه دلندن پروتوکول۱۹۳۰مکال.

۱۳-دجګړې پرمهال دتاریخي ابداتو،علمي اوهنري مرکزونودخوندیتوب په اړه د۱۹۳۵مکال تړون.

۱۴-دکیمیاوي وسلودکارونې،ساتنې،تولید ،پرمخبیولواوویجاړولوکنوانسیون۱۹۹۳مکال.

۱۵-دانسان ضدماینونودجوړوني،ساتنېاوتجارتدمخنیوي کنوانسیون۱۹۹۷مکال.

۱۶-دنړیوالې جنايي محکمې اساسنامه ۱۹۹۸مکال.

۱۷-دماشوم،سرتیروپه اړه دماشومانودکنوانسیونالحاقي پروتوکول۲۰۰۰مکال.

جینیوا او دیته ورته نور نړیوال کنوانسیونونه چې د جګړې د حقوقو په برخه کې لاسلیک شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جګړه کې د بشر دوستانه حقونو د رعایت لپاره یو حقوقي چوکاټ برابروي،اوس مهال د نړۍ څه باندې ۱۹۶ هېوادونه د جینیوا له کنوانسیون سره یو ځای شوي چې افغانستان یې هم غړی دی.

افغانستان له جینیوا له څلورم کنوانسیون سره په ۱۹۵۴ م کال کې وځای شواو بیا لومړی او دویم الحاقي پروتوکولونه یې په ۲۰۰۹ م کال کې لاسلیک کړل.لومړی پروتوکول په ۱۹۷۷ م کال کې په نړیواله جګړه کې د قربانیانو او دویم یې په ۱۹۷۷ م کال کورنۍ جګړه کې د قربانیانو د ژوند د خوندیتوب په اړه دي.

**دریم مبحث - جګړې د نړیوالو حقوقو منابع**

څرنګه چې وسله والې جګړې یوه بشري نړیواله پدیده او ډیره اوږده مخې نه لري،نو د جنګ قواعد او حقوق چې وروسته په بشر دوستانه حقوقو یې شهرت وموند هم پخوانۍ مخینه لري،چې خپله د نړیوالو عمومي حقوقو په ضمن کې هم د بحث لاندې نیول شوي دي.همدارنګه د بشر د پیدا ښت سره الهي او سماوي ارشادات د انبیاو علیهم السلام پواسطه خلکوته وړاندې شوي دي چې موږ به د اسلام په مبارک دین کې د جنګې هدایاتو او قواعدو نمونې چې پیغمبر صلي اللّه علیه وسلم خپلو سرتیرو صحابه و ته کړي دي.

بشر دوستانه اصول او قواعد اساسا عرفي ریشه لري،چې مدون ډول د اولسمې پیړۍ په اواخرو کې منځته راغلي دي.د مثال په ډول په ۱۶۲۰ م کال کې د(جنګ او سولې حقوق)په نوم کتاب او د(حقوق او جنګې عدالت)په نوم کتاب چې په ۱۶۵۰ م کال کې لیکل شوي دي.د یادونې وړ دي.د موضوع د ښه اسانتیا لپاره له نوموړو منابعو څخه هره یوه یې په لنډ ډول تشریح کوو.[1][3]

**لومړي مطلب - د بشردوستانه حقوقو بنسټیز اصول**

د بشر دوستانه حقوقو بنسټیز اصول د بشر دوستانه حقوقو د منابعو په هکله چې خبره د یادولو وړ ده ،هغه داده چې د دغه حقوقو منابع د عمومي نړیوالو حقوق څخه په کامل ډول جدا نه دي،خو کوم شي چې مهم دي هغه د جګړې په نړیوالو حقوقو کې د منابعو څخه علاوه د یو لړ اصولو شتون دي چې پدې زمینه کې یې د منابعو څخه اهمیت زیات دي او د [4]جګړې په وخت کې د بشري

---

[1][3] بیګدلي محمد رضیاضیایي،حقوق بشردوستانه،

[1][4] مخکښني ماخذ ،مخ،۲۹ ،۳۳

۲ ضیایي،بیګدلي،حقوق بشردوستانه بین الملل ،مخ، ۳۱

۳ یوګوسلاویا د بالکان د هیوادونو څخه ده،چې د اروپا په جنوب کې واقع ده،(۲۵۵۸۰۰)کیلو متره مربع مساحت لري او ۳۳ میلونه نفوس لري.د کمونیزم د ماتي څخه وروسته یوګوسلاویا هم تجزیه شوه او په څلورو برخو وویشل شوه چې عبارت دي له بوسنیا ،صربیا ،کروشیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوقو ټول قواعد ورڅخه په کلکه متاثره دي،چې په هيڅ صورت د دغه قواعدوتکر د يادو شوو اصولو سره د منلو وړ نه دي،چې دغه قواعد عبارت دي له انساني کرامت اصل،د انساني رفتار او د تبعيض د نه شتون اصل،د نظامي اړتيا د شتون اصل،د بې ځايه کړاو او د درد د تحميل د ممنوعيت اصل،او د مارتنس اصل چې هدف يې دا دي چې(جنګيالي او غير نظامي خلک بايد د هغه اصولو او نړيوالو مقرراتو د اقتدار لاندې قرار ولري چې د يو سالم عرف ،بشردوستانه اصولو،اود عمومي وجدان د اصولو څخه يې منشااخيستي ده.)[1]

**دوهم مطلب – عرف اوعادات**

لکه څرنګه چې په عمومي حقوقو کې عرف د ډيرو مهمو او پخوانيو منابعو څخه شميرل کيږي همدارنګه د جګړې په نړيوالوحقوقو کې هم د مهمو منابعو څخه شميرل کيږي،تر دې حده چې د سره صليب نړيوالې کميټې پدې اواخرو کې د (عرفي نړيوالو بشردوستانه حقوقو)تر نامه لاندې يو خاصه ټولګه نشر ته سپارلې وه[2].سره ددې چې بشردوستانه حقوقو په عرفي کولو د امريکا د متحده ايالاتو په شمول يو شمير هيوادونو انتقادونه وکړه،مګر ددې با وجود بيا هم د پخوانۍ يوګوسلاويا[3] لپاره د جوړې شوې جنائي محکمې لخوا له دې قواعدو څخه د يو ګوسلاويا د جنګې جرايمو په اړوند قضاياو کې کار واخيستل شو.

د عرف[4] په اړوند بايد ووايو چې نسبت داخلي حقوقو ته په نړيوالو حقوقو کې اوچت مقام لري.ځکه چې د نړيوالو حقوقو په تدوين کې نړيوالو معاهدات د خاص اهميت څخه برخوردار دي او نړيوالو معاهدات بيا په خپل وار،په حقيقت کې هماغه نړيوال عرفونه دي چې په مدون شکل په معاهده کې ځاي پرځاي کيږي.بنا عرف کولاي شو په دې ډول تعريف کړو: د نړيوالو حقوقو د تابعينو په واسطه د مشابه اعمالو او تګلارو تکرار چي په تدريخ سره د هغوي ترمنځ په متقابل اړيکو کي الزامي جنبه او حقوقي قدرت لاس ته راوړي عبارت د نړيوال عرف څخه دي . عرف په نړيوالو مسايلو کي د نړيوال عدالت د محکمي د ګڼو فيصلو لپاره پايه او اساس تشکيل کړي[1] .

---

او مونتينوګرو څخه دا مهال هر يود يو مستقل هيواد حيثيت لري.د تجزيي وړانديې پلازمينه د بلګرات ښار وو.مهرداد ،محمود ،فرهنګ جديد سياسي،مخ، ۲۲

[4]عرف د يو روش تکرار ته وايي چې د اوږدي زماني په طول کې د خلکو د باور او عمل مورد ګرځيدلي وي ،او په معاملاتو کې ورڅخه استفاده کيږي.نصرالله منصور،قاموس اصطلاحات حقوقي ،مخ، ۱۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دريم مطلب- نړيوال معاهدات۲

معاهدات د جګړې د بشري حقوقو د منابعو د جملې څخه مهمترينه او موثرترينه منبع ګڼل کيږي . دا چې معاهده څه ته وايي د نړيوالو عمومي حقوقو له مخې مختلف تعريفونه شوي دي موږ يې د هغې له جملې څخه د يو جامع تعريف په حيث په يو باندې کفايت کوو: معاهده د نړيوالو عمومي حقوقو د تابعانو (د هيوادونو او نړيوال سازمانونو ) ترمنځ هر ډول ليکل شوي توافق ته وايي چې د نړيوالو حقوقو د قواعدو په چوکاټ کې صورت ومومي ، او نړيوال عمومي حقوق پرې حاکم وي او په نتيجه کې مشخص حقوقي اثار منځ ته راوړي .

دا مهمه نه ده چې د دغه توافق نوم معاهده ، عهد نامه ، مثاق ، قرار داد ، کنوانسيون ،منشور ، پيمان ،اساسنامه يا بل اړوند[15] اصطلاح وي.مهمترين بشردوستانه معاهدات عبارت دي له ژينوا۳ ۱۹۴۹ م د اګست ۱۲ نيټې د معاهداتو څه چې تعداد يې څلورو ته رسيږي او موضوعات يې په لاندې ډول دي .

۱ معاهده : د وچې په جنګ يا په ځمکني جنګ کې د مسلحو قوتونو د ناروغو او ټپيانو د وضعې د بهبود په هکله .

۲ معاهده : په سمندري جګړه کې د مسلحو قوتونو د ناروغو ټپيانو او سمندري غرق شوو او مصدومينو د وضعې د بهبود په هکله .

۳ معاهده : د جګړې د اسيرانو سره د برخورد په هکله .

۴ معاهده : د جګړې په وخت کې د غير نظامي افرادوڅخه د حمايت په اړوند ۱ .

### څلورمطلب : د حقوقو کلي اصول

باوجود د دې چې په بشر دووستانه نړيوالو حقوقو کې نسبت نورو منابعو ته د حقوقو کلي اصولو ته زيات ارزښت نه دې ورکړل شوي ،مګر حقيقت دادې چې د حقوقو د کلي اصولو څخه کم نه دي ، د مثال په ډول هغه د حقوقو کلي چې په بشردوستانه حقوقو کې د اجرا وړتيا لري عبارت دي له

---

[15] ضيايي بيګدلي ،حقوق بين الملل عمومي،مخ، ۱۶۷

۲نړيوال معاهدات عبارت د هر ډول منعقده توافق څخه دي چې د بين الملل حقوقو په تابعانو يا اشخاصو ترمنځ لکه دولتونه او سازمانونه صورت

مومي،په دې شرط چې د نړيوالو حقوقو سره مغايره نه وي،او حقوقي اثار منځ ته راوړي .مخکيني ماخذ ،مخ، ۹۷

۳ژينيو چې د جينيو يا د جينوا په نوم هم يادېږي.د اروپا په زړه کې د پراته په طبيعي ډول ښکلي هيواد سويس پلازمينه ده،چې د پخواني نړۍ شموله بين المللي سازمان د (ملتونوټولنه) مقر هم وه،مهرداد محمود ،فرهنګ جديد سياسي ،مخ، ۱۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وعده باندي دوفا اصل ، د حسن نيت ، د حق څخه د ناوړه استفادي د منع اصل ، د خساري د كامل جبران اصل ، هغه اصل چي د هغي په اساس هيڅوک د ځان لپاره قاضي كيداي نه شي او داسي نور چي اوس وختو كي دغه اصول په حقوقي قواعدو تبديل شوي دي. مگر دا چي خپله كلي حقوقي اصول څه ته وايي ؟ حقوق دانان اكثرا په دي ډول د هغي تعريف كوي چي دا په حقيقت كي د داخلي حقوقو د كلي اصولو څخه عبارت دي چي د قانونگذاري د اكثرو مراجعو لپاره مشترک قواعد تشكيلوي ، او [6]داسي اصول دي چي د هر ډول بحث او گفتگو څخه مافوق دي چي د ټولو متمدنو هيوادونو مشترک حقوقي ميراث تشكيلوي[٢].بشردوستانه حقوق لكه څنگه چي د تيرو توضيحاتواو بحثونو څخه معلومه شوه ،چي د جنگ د قواعدو او اصولوو څخه بحث كوي ، نو بنا ويلاي شو چي همدا د جنگ سحنه د بشردوستانه حقوقو د تطبيق ساحه ده . برابره خبره ده چي دا جنگ بين المللي يا غير بين المللي وي ، د ملگرو ملتونو د سازمان عمليات وي يعني د سوله ساتو ځواكونو يا څو ملتونو قواوو عمليات وي ، يا حتي د منطقوي سازمانونوعمليات وي . په ټولو صورتونو كي د جنگ تر ختمه پوري د دي قواعدو تطبيق لاژم او اجباري مكلفيت گڼل كيږي چي د جنگ دواړه يا څو اړخونه د دي وجيبي په سرته رسولو مكلف دي ، تر دي چي په بعضي مواردو كي د جنگ د دريدلو څخه وروسته د رعايت وړ دي ، مثلا د جنگ د دريدلو وروسته د مړو يا زخميانو ، ډوبو شوو او ماتي شوو كښتيو د غمخوري په خاطر هم د نوموړو حقوقو د تطبيق څخه بي غمه كيداي نه شو همدارنگه د بشر دوستانه حقوقو د اجرا د متقابل عمل پوري اړه نه لري . په لنډ ډول ويلاي شو چي بشردوستانه حقوقو د تطبيق ساحه د زمانييا مكاني لحاظه ، همدارنگه د جنگ د ډولونو او قلمرو له حيثه ، لكه ځمكني ، هوايي او سمندري جنگونه او نور هيڅ ډول استثنات نه مني او ردوي يي .

[6]١قردادهاي بين الملل ژينيو،١٩۴٩اگست١٢ ،مخ،٧،كميته بين المللي صليب سرخ

[٢]بيگدلي ،محمد رضاضيايي ،حقوق بشردوستانه بين الملل ،مخ،٣٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم فصل

## لومړۍ مبحث -جګړې حقوق یانړیوال بشرپال

نړیوالو حقوقو مهمه برخه ده،چې په جګړه کې د متخاصمو یا جګړه مارو لورو حقوقي مکلفیتونه په ډاګه کوي.دغه حقوق په ټوله کې په دي بحث کوي چې په جګړو کي او وسلوالو نښتو کي د جګړه اییزو اصولو کارول محدود دي.او همدارنګه د جګړې پر مهال د بې طرفه خلکو ژوند ته باید جدي پاملرنه وشي.خو مخکي له دې چې خپل اصلي بحث ته

دوام ورکړو،ښه به وي چې د نړیوالو حقوقو له نظره د جګړې پر مفهوم یوه لنډه کتنه وکړو.

## دویم مبحث -دجګړې مفهوم دنړیوالوحقوقوله نظره.

په نړیوالو حقوقو کې جګړه له زور او ځواک څخه د کار اخیستلو یا اخیستو وسیله ده،چې یو تعریف یې داسي دي:جګړه د ملي سیاست د وسیلي په توګه د هغه هري او مسلمانه اقداماتو یا تدابیرو مجموعي ته ویل کیږې چې د دوه یا څو هېوادونو یا دولتونو تر منځ د ځانګړي وضعیت په رامنځته کیدو تمامیږي.

پدغه وخت کې له ښکېلو هېوادونو هر یو یې په دې هڅه کې وي چې خپلې سیاسي غوښتنې

پر مقابل لوري ومني

له پورتني تعریف څخه نتیجه اخلو چې د جګړې د حقوقو مفهوم څلور اساسي عناصر لري.

۱-تشکیلاتي عنصر یاهېوادونه.۲-مادي عن صریادځواک کارول.۳-معنوي عنصري دجګړې اراده.۴-موخه چې ملي ګټې او مصلحت په کې نغښتي وي.

### لومړی مطلب –تشکیلاتي یااورګانیک عنصر:

د جګړې تشکیلات بیا اورګانیک عنصر دولتونه دي چې جګړې د مفهوم یو اساسي رکن جوړوي.جګړه هېوادونو د وسلوالو ځواکونو تر منځ پیښیږي،نو له همدې امله چې جنګ له دولتونو سره چې هماغه اورګانیک عنصر دي مستقیمه اړیکه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژان ژاک روسو په ۱۷۶۲مکالکې چې خپل کتاب کښدې مسلې ته اشاره کړې چې جګړه دانسان اړيکې هلهان سان سرهنه،بلکې دولتونوترمنځ اړي که ده چې ديوه انسان يا وګړي په توګه نه ، بلکې د مدافعينو په توګه له يو بل سره په دښمنۍ کې ښکيل شوي دي.۱[7]

**دويم مطلب – معنوي عنصريادجګړې اراده:**

د جګړې دوهم عنصر د جګړې لپاره تابيا يا اراده ده،چې په نړيوالو حقوقو کې ورته معنوي عنصر وايي.پدي حالت کې متخاصم ځواکونه لکه د مادي عنصر په څير په جګړه کې نه وي ښکيل شوي بلکې د جګړې لپاره چمتوالي نيسي.

۱[7]ضيايي ،بيګدلي ،حقوق بين الملل عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۷۰م کال کې د لاهې په کنفرانس کې د تړون لاسلیکوونکو هېوادونو اراده د جګړې یو مهم رکن وباله د شخړو اړوند د لاهاي دریم هوکړه لیک پر بنسټ چې ۱۹۰۷مکالداوکتوبرپه۱۸ نیټه لاسلیک شو جګړه په قانوني ډول هغه وخت پیلیږي چې د جګړه مارو هیوادونو لخوا په دې اړه له مخکې یوه خبرتیا موجوده وي.

یاد تړون له مخې که غړي هېوادونه له مخکې اعلان یا خبرتیا پرته جګړه پیلوي له ژمني پر سر غړوني او په نړیوال جرم تورنیږي.

دا په نړیوالو حقوقو کې یوه قراردادي قاعده نه ده چې تر وسلوال برید مخکې دې باید یوه خبرتیا موجوده وي بلکې منل شوي نړیوال عرف دی.په دې اساس د لاهاي په کنفرانس کې هم دغه عرف ومنل شو البته که ددې عرف تاریخي شالید ته ګرځو نو په لرغوني روم،یونان او منځنیو پیړ یو کې هم په جګړه کې له دې اصل څخه کار اخستل شوي دي.

**دریم جز- مادي عنصر(نښته)**

د جګړې له مادي عنصر څخه موخه عملاً د وسلوالې جګړې پیل دی.جګړه تل د متخاصمو او دښمنو قوتونو تر منځ د ځواک له استعمال سره مله وي.د وسلو او وسلوال ځواک له کارونې پرته جګړه معنی نه لري باید یادونه وکړو له دویمي نړیوالي جګړې وروسته چې د شوروي اتحاد او د امریکا متحده ایالتونو تر منځ کشمکشونه ته د «د سړې جګړې» اصطلاح کارول کیده دا د جګړې اوسني علمي،حقوقي مفهوم نه شي افاده کولی دا یو جلا حالت و.

که څه هم په نړیوالو حقوقو کې دانه ده په ډاګه شوي چې کوم ډول وسلوالې نښتې ته جګړه ویل کیږي.خو په عمومي ډول ویلي شو هره هغه نښته چې د زور او وسلوال ځواک کارول په کې شامل وي جګړه بلل کیږي.

باید یادونه وکړو چې جګړه په «اوربند»پاي ته نه رسیږي بلکې داد جګړې د درولو یو منځ مهاله او اوږد مهاله پروسه ده.

یا په بل عبارت اوربند د جګړې یزو عملیاتو درول دي.جګړه هغه وخت پاي ته رسیدي شي چې ښکیل غاړي د یوه یا څو هېوادونو او یا هم د نړیوال سازمانونو په منځګړیتوب په خپلو کې د جګړې د پاي رسولو معاهده یا تړون لاسلیک کړي۱[8]

۱g.secelle.international prosecution of human rights crimes[8]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځلورم جز- جګړې موخه:**

په نړیوالوحقوقو کې د جګړې هدف او موخه باید معلومه وییعني جګړه کوونکي هېوادونه یوه ځانګړې موخه لري چې دلاسته راوړلو لپاره جګړې ته ادامه ورکوي یرغلګر هیوادونه تل ادعا کوي چې جګړه یې د خپلو ملي ګټو لپاره پیل کړې ده.خو دا چې ملي ګټې کومې دي یو جلا بحث ته اړتیا لري

د عیني حقوقومکتب پلویان لکه (جورج سبل) د جګړې همدغه عنصر ته په کتو جګړه داسې تعریفوي. جګړه په نړیواله ټولنه کې دحکومتي سیستمونو دبدلون په هدف له مادي ځواک څخه د کار اخیستوپه معنی ده[9].

پدې اساس هغه جګړه چې د ملي ګټو اساس ونه لري اود ملي سیاست وسیله ونه ګڼل شي،دجګړې په حقوقو کې خپل مفهوم له لاسه ورکوي.په هر حال زموږ اصلي بحث په جګړه کې دبشردوستانه حقوقو یا دجګړې دحقوقو په اړه دي.نړیوال بشردوستانه حقوق پر دوه عمده مفاهیمو راڅرخي.

۱-ددې حقوقو پربنسټ د دولتونو لخوا په وسلوالو جګړو کې د هر ډول وسلو کارول غیر محدود نه دي بلکې په جګړه کې ښکیل دولتونه یوازې له هغه وسلو کار اخیستلې شي چې انساني مرګ ژوبله او ناورین رامنځته نه کړي.

۲-دغه حقوق په جګړه کې د ملکې خلکو،اسیرانو،ټپیانو،او ناروغانو له حقوقواو انساني کرامت څخه ملاتړ کوي.

**لومړې جز-دانساني سلوکاونه تبع یضاصل:**

ددې اصل له مخې له هرډول جنسیتي،مذهبي،توکم یزاو ژبني توپیر پرته ټول انسانان د انساني کرامت او قدر وړ دي پدې اساس په جګړه کې تبعیض منع دي.

9

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم جز-دپوځي اقدام اصل:**

ددې اصل پر بنسټ پوځي عملیات او اقدامات باید له نظامي پلوه د توجویې وړوي.

**دریم جز- محدودیت اصل**

هغه وسلي او کړني چې په جګړه کې د ډیري مرګ ژوبلې،درد او رنځ سبب کیږي کارول یې منع دي دا په جګړه کې ډیر

مهم اصل دییعني جګړه مار لوري د وسلو د کارونې په برخه کې خلاص لاس نه لري.

**څلورم جز-تفکیک اصل:**

ددې اصل پر بنسټ پوځي او غیري پوځي هدف باید له یو بله جلا وي.

**پنځم جز- دتناسب اصل:**

د تناسب د اصل له مخې د پوځي برید او هغې موخې تر منځ چې برید لاندي نیول کیږي تناسب باید موجود وي.مثلاً که یوه وسله واله ډله یوه ښار ته داخلیږي د خپل مخالف د تسلیمولو لپاره باید ټول ښار ویجاړ نه کړي.

**شپږم جز-دښه نیت اصل:**

د جګړې ښکیلي خواوي باید په جګړه کې د غچ اخیستني په موخه داسي کارونه وکړي چې عامه زیان رامنځته نه کړي.لکه د دویمي نړیوالي جګړې وروسته کله چې په نورمبورګ کې د هټلر د نازي چارواکو محکمه پیل شوه همداسییوه قضیه رامنځته شوه دا قضیه د دوه قوماندانانو لخوا د دوو ځنګلونو سوځول وو.

یو لوري چې د پوځي اړتیا یا ددښمن د موجودیت له امله ځنګله ته اور اچولي و،برائت یې واخیست او بل چې په داسي حال کې چې دښمن له ځنګله څخه د شاتګ په حال کې وو،او ځنګله ته یې اور ورته کړي و،مجرم وپیژندل شو په دي اساس په جګړه ییزو تکتیکونو کې ښکیلو خواوو د نیت څرنګوالي مهم اصل دي.

**هغه ډلې اوګانیونه چې دجګړې دحقونوله ملاتړڅخه برخمن دي**

۱-غیري پوځي وکړي،هغه ځوک چې د جګړې په هیڅ لوري کې نه راځي.

۲- ټپي اناوناروغان

۳- جنګې اسیران

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴م-خیریه بنستهونه(سور صلیب او سره میاشت)

۵-مقدس ځایونه،فرهنګي ځایونه.

**څارونکي بنستهونه.**

**۱ -دولتونه**

۲-سره صلیب نړیوال کمیته اوسرهم یاشت

۳-سره صل یباوسریم یاشتي ټولني

۴-نادولت یبشرپال سازمانونه

۵-ملګروملتونوآمنیت شورا

۶-نړیواله جنایي محکمه.

## دریم فصل

## جګړیزه اصول د اسلامي شریعت نړیوالو دوستانه نظر

### لومړی مبحث- د اسلام له نظره

اسلام په جګړه کې د جنګي اسیرانو او غیري محاربو د حقوقو خوندیتوب ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.اللّه ج په خپل کتاب قرآنکریم کې پیغمبرانو او خپلو بنده ګانو ته ددې حقوقو درعایت په اړه ښکاره سپارښتني کړې دي.

دلته د جګړې د حقوقو په ځانګړي توګه له جنګي اسیرانو سره د چال چلند په اړه د قرانکریم او نبوي حدیثو کې ځینې لارښوونې په دي توګه رانقلوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انفال سوره ۶۷آیت(ما کانَ لِنَبِي آنْ تَکُونَ لَهُ اسْرَي حَتّییتْخِنَ فِي الْاَرْضِ تُرِیدُونَ عَرَضَ الدُّنْیا والَلّهُ یرِیدُالاخِرَةَ واللّهُ عَزِیزُ حَکِیمٌ)[10]

ژباړه:(هیڅ پیغمبر حق نه لري چې د دښمن بندیان ونیسي ترڅوچې پر هغوییې بشپړ تسلط نه وي ټینګ کړي تاسو د دنیا بایداره ګټه غواړي خو اللّه ج تاسو ته آخرت غواړي او اللّه ج قادر او حاکم ذات دي.

که د اللّه ج پخوانۍ فرمان نه وي-له خبرتیا پرته هیڅ امت ته مجازات نه ورکول کیږي له دي امله چې اسیران مو نیولي وو تاسوته به شدیده جزا درکړل شوي وه.

په پورتني آیت کې چې مخاطب یې پیغمبر او جنګي بندیان دي له جنګي اسیرانو سره نیک سلوک سپارښتنه شوې.

د دهر(انسان)سورت په ۸ آیت کې هم له جنګي اسیرانوسره نیک چلند ته اشاره شوې ده.

(ویطْعِمُونَ الطّعَامَ عَلَي حُبّه مِسْکِناً وَ یتِیمًا وآ سِیرًا)[11]

ژباړه:د اللّه ج نیک بنده ګان خپل خواړه مسکینانو،یتیمانو او اسیرانو ته د اللّه ج د رضا لپاره ورکوي.نوله اسیرانو ښه سلوک کول او د امکان تر بریده د هغوي د ژوند د اړتیاوو پوره کول اسلامي آمردي.

همدارنګه د پیغمبر(ص)د یوحدیث ژباړه ده:(د بندیانو په اړه زما سپارښتنه داده چې له هغوسره نیک چلند وکړي)

په یوبل حدیث کې راځي:(ثلاثه في ظل العرش.........رجلاً اطعم المساکین والاسري.)

ژباړه:درې تنه به د قیامت په ورځ د الهي عرش تر سیوري لاندې وي،له دوییو هغه څوک دي چې بې وزلو او اسیرانو ته یې ډوډۍ ورکړي وي.

---

[10] ۱سوره انفال،آیت ،۶۷
سوره دهر،آیت،۸
ژینوا،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نیټي په لوظنامو باندي ورزیات شوي تړنونه ،مخ،۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی مطلب :د اسلامي په مقدس دین کي د جنګ ( جهاد ) پیژندنه او اهداف**

د اسلام په مبارک دین کي د اهدافو د څیړلو لپاره ضروري وه چي د جهاد فی سبیل الله د سپیڅلي اصطلاح د مفهوم او مانا او انواعو په اړوند معلومات لاسته راوړو او له هغي وروسته به په اسلام کي د جنګ اهداف روښان کړو.

**لومړی جزا –د جهاد فی سبیل الله مفهوم او مانا**

جهاد یو عربي کلیمه ده چي د کوښښ کولو، د خپلي وسې په اندازه هڅه کول، د حق دین په لار کي کوښښ کول،او د اهل تصوف په نظر دنفس او نفسي خواهشاتو په مقابل کي مبارزه د جهاد فی سبیل الله مانااو مفهوم افاده کوي، همدارنګه د نفس د تزکیې لپاره د کوښښ کولو په مانا هم راغلي ده .لکه څرنګه مو چي وویل جهاد یوه عربی کلیمه ده چي مانایې د یو هدف او کار لپاره ډیر زیات کوښښ کول دي چې په مانا کې یې د وحشت ، رعب، قهر، ویره، دهشت ، شر،بدی ، کړ او او د مصیبت کوم اثر نه معلومیږي ددې لپاره چي د جهاد مانا په په کوښښ سره د اوریدونکي اطمینان نه شي حاصلولی .نو یوازی داد جهاد نوم کافي ونه ګڼل شو. او د (فی سبیل الله ) وروستاړي هم ورزیات کړه تر څو مخاطب ښه مطمئن شي چي دغه کوښښ د الله ج په لاره کي او د الله ج لپاره دې نو ځکه باید اوریدونکي مطمین شي او د خپل ځان په اړوند کوم تشویش ونه کړي، مګر دا چې څوک د فی سبیل الله جهاد په مقابل کي راودریږي او مقابله یې کوي،نو دا جهاد د هم د همدغسي کسانو په ضد دي خو د یادولو وړده چې د غسي کسانپه مقابل کي به هم جهاد د الهي قواعد و په چوکاټ کي صورت مومي.چې هغه په کامل ډول جنګې اخلاق ، دجنګیالیوحقوق او وجایب ، د ملکیانو حقوق او وجایب ، د جنګي بندیانو سره سلوک او نو اړوندموضوعات تر خپل پوښښ لاندي نیسي . او مجاهدته دا اجازه نه ورکوي چې د جهاد پهنوم د خپلي خوښې کړني سرته ورسوي .الله تعالی په قرانکریم کي فرمایلی دي ، (( وجاهدوافی الله حق جهاد هوا جتبا کم وما جعل علیکم فی الدین من حرج ))

ژباړه : او زیار کوي په لاره دجهاد ،طاعت او رضا د الله تعلی کې په حق د جهاد د هغه سره چې ورته وړ او لایق دي دغه الله غوره کړي یې تاسي او نه یې دي ګرځولې په تاسي په دین کي هیڅ حرج ، مشقت او اشکال .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا رنګه د الفقه الاسلامي وادلته کتاب ليکوونکي د جهاد د کليمي ماناکي ليکلي ( بذل الجهد وهوالوسع والطاقة ماخوذ من الجهد باالضم او المبالغة فی المعل ما خو ذمن الجهد بالفتح ) و اصطلاحا عند الحنفية ( هوالدعاء الی الدين الحق وقتال من لم يقبله بالمال والنفس كما قال الله تعالی .

انفروا خفافًاوثقالا وجاهدو ابامو الكم وانفسكم فی سبيل الله ذلكم خير لكم ان كنتم تعلمون ..

ژباړه : ځی تاسو جهاد ته حال دا چي سپک اوسی او يادرانه ، او جهاد کوي تاسوپه مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله ج کې ، دغه تګ غزا ته خير او بهتر دي تاسي ته ، که يې چې پوهيږي .

ددې عباراتو مفهوم داسي دې چي جهاد د جيم توري په ضمه دجُهد څخه اخيستل شوي دي چي د وسعي اوطاقت په اندازه کوښښ کولو ته وايي. همدارنګه په فتحه د جيم هم کيدای شي چي پدي صورت کې بيا په عمل کې دمبالغې په مانا دي په اصطلاح کې د خنافو په اند دحق دين په طرف بلندده او هغه چاسره په مال او ځان جنګ کول دي کوم چي دا بلند نه مني ، لکه څرنګه چې الله تعالی پخپل کتاب کې د النوبه سورت په ۴۱ مبارک ايت کي فرمايلي دې ژباړه ووځی تاسي جهاد ته حال دا چي سپک اوسي او که درانه ،او جهاد کوي، تاسي په مالونو خپلو او ځانونو خپلو په لاره د الله کې ، ددين د ترقي لپاره دغه تلل غزا ته ته خير او بهتر دی تاسې ته که چيرته تاسې پوهيږي ، په خپله ګټه او فايده.[12]

د شافعي علماو په نزدجهاد ( هو قتال الكفار لنصر الاسلام ) ته وايې يعنې شوافع وائې چې جهاد د کفارو سره دجنګ کولو څخه عبارت دي داسلام دمبارک دين دنصرتاو کومک لپاره همدارنګه د پورته يادشوي کتاب مؤلف زحيلي صاحب د تعريف په اړوند ليکلي دي ( ونسب التعريف الجهاد د شرعاً انه بذل الوسع و والطاقة فی قتال الكفارو مرافعتهم بالنفس والمال واللسان ) ژباړه : نو موړي عالم وائې چي دجهاد لپاره مناسب تعريف د شرعي لحاظ دا دي چي جهاد دوسع او طاقت خرچ کول او مصرفول دي د کفارو سره په جګړه ، او د هغوي د حملي دفع کول دي په خپل ځان ، مال ، او ژبې سره له دې لنډ بحث وروسته غواړو دجهاد په ډولونو لږ تم شو.

12. شيخ الهند مولانا محمود د حسن ،علامه شبير احمد عثماني،کابلی تفسير عربی چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم جزا – په اسلام کې د جګړې ( جهاد ) موخې او اهداف**

څرنګه چې په نړۍ کې دانسان هیڅ تحرک او خوځښت پرته له موخو څخه نه وي او حتماد یوهدف لپاره هلي ځلي کوي نو جنګ چې په انساني اعمالو او تحرکاتو کې یو په فطري او طبیعي ډول شنیع او بد عمل دي،حتما باید یو داسي هدف لپاره وشي چې همدو مره ارزښت ولري. په نړیوالو سطحه دجنګ اهداف اکثرا دیناوي ژوندانه لپاره وي که هغه په نوي او معاصروحت کې د جنګ اهداف دي او که په پخواني د اسلام څخه وړاندي ، دجهالت د وخت جنګونو دي د اکثرو اهداف د خپل زور اوغرور او تفاخر په نندراه کې وړاندي کول او همدا رنګه د نورو مالو نه، شتمنې ،ځمکي نیول او د انسانانو څخه بیلا بیلی ګټې اخیستل دي،چې د هغوي د وجود دانرژۍ د مصرفولو څخه نیولي بیا تر جنسي او شهواني غوښتنو تر اشباع پوري رسیږي مګر د اسلام مقدس دین چې نه یواځې د اخروي سعادت ضامن دې بلکې په نړیواله سطحه هم د انساني او بشري ارزښتونو دساتنې او د بشریت د سوکالۍ تضمین کوي، په هیڅ ډول اجازه نه ورکوي ، چې د داسي ټیټو او دنې اهدافو لپاره دي د انسان وینه توي شي ا نړۍ دې د جنګ یاجهاد فی سبیل الله هد ف ډیر اوچت او عالي دي کوم چې په عام ډول د ټول بشریت او په خاص ډول دمسلمان لپاره د یو باعزته ، مطمئن او له ډا ډه ډک ژوند انه تضمین کوي نو دهمدي خبرو په نظرکي نیولو سره د هغه اهدافو توضیح کولو ته راځو کوم چې د اسلام مبارک دي، دجنګ یا جهاد فی سبیل الله څخه د لاسته راوړلو کوښښ کوي ، د اسلامې نړۍ علماوو. فقهاواو مجتهد ینو د جهاد اهداف په عمده ډول اته لوی اهداف شمیرلي دي چې هغه عبارت دي له دفتنې ختمول، د اسلام غلبه ، د کفارو څخه د جزایې اخیستل ، دضعیفواو کمزوري مسلمانانو حمایت کول. دمقتولینو انتقام اخیستل،معاهدي د ماتولو جزا ورکول ، مشروع دفاع کول .

**دویم مطلب – د جګړې حقوق د جینوا د کنوانسیون له مخې**

جګړه ایزي لارې چارې او وسایل

۳۵:ماده-بنسټیز قاعدې

۱-په هیڅ ډول وسله واله جګړه کې دښکیلو لوریو حق د جګړې د لارو چارو او وسایلو د ټاکنې په هکله نا محدود نه دي.

۲-د هغو توغوونکو وسلو کارول منع دي چې زیات ټپونه او بې شمیره رنځونه رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-د جګړې د هغه لارو چارو او وسایلو کارول منع دي چې موخه او تمه یې طبیعي چاپیریال ته اوږد مهاله او پراخه زیان رسونه وي.

**۳۶-ماده**-د جګړې ژمن لوري د جګړې د نویو لارو چارو او وسایلو د څیړنې،پراختیا ،او د وسلو د لاس ته راوړنې لپاره باید دا جوته کړې چې دهغوي کارونه د دغه تړون یا نورو نړیوالو منل شوو قوانینو پر بنسټ په ځینو یا ټولو حالاتو کې د ژمنو لوریو لخوا ممنوع ده.

**۳۷ ماده** د هغه له لارې د سیال وژل،ټپي کول یا نیول منع دي.د دښمن پام ګرځونه د خیانت د داسې عملونو سرته رسولو ته چې د وسه والو نښتو د منل شوو نړیوالو قوانینو سره سم یې سرته رسول خپل حق یا دنده بولي،غدر ګڼل کیږي

لاندې عملونه د غدر بیلګې دي:

الف-د متارکې یا غاړې ایښودونې په بهانه د خبرو اترو لپاره د بیرغ پورته کول. ب-د ټپي کیدو یا ناروغۍ له امله دکمزورتیا او ضعف څرګندول.

ج-ځان ملکي یا غیر جګړه مار ښودل.

د-د ښنو،ښبانونو یا د ملګرو ملتونو یا د بې پلوه او په نښته کې د نه ګډون کوونکي هیواد د یونیفورم په واسطه د حمایت شوې کس په دریځ کې د ځان څرګندول.

۲-جګړییز چل او ول جواز لري.چل او ول د دښمن د تېرایستلو لپاره تره سره کیږي او هغه دې ته رابولي چې بې پامه او بې پروا شي.په دې توګه د وسله والو نښتو د نړیوالو قوانینو له پلې کیدونکو قاعدو څخه سر نه غړوي او له دې امله چې د دغه قانون سره سم حمایت ته درناوي لپاره د دښمن باور نه را پیداکوي نو غدر نه شمیرل کیږي.ځان پټول،مورچل نیول،تقلبي عملیات او ناسم معلومات دچل او ول بېلګې دي.

[13]۱ژینوا ،د ۱۹۴۹اګسټ د ۱۲نیټې په لوظنامو باندې ورزیات شوي تړنونه،مخ، ۳۴

ژینوا ،د ۱۹۴۹اګسټ د ۱۲نیټې په لوظنامو باندې ورزیات شوي تړنونه،مخ، ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

### پيژندل شوي نښانونه[14]

**۱۳۸ – ماده**–.د سره صليب،سرې مياشتې،سره زمري او لمر يا نورو هغو نښو او نښانونو ناوړه کارونو منع ده چې د لوظنامو او د دغه تړون لخوا په رسميت پېژندل شوي دي.همدارنګه د متارکې او فرهنګي شتمنيود حمايوي نښانونو په ګډون د نورو نړيوالو پيژندل شوو حمايوي نښو،نښانونو او اشارو ناوړه کارونه منع ده.

۲.د ملګرو ملتونو د ځانګړو نښانونو کارونه پرته له اجازې منع ده.

### ملي نښانونه[2]

**۱۳۹ ماده**–.۱- په وسله والو نښتو کې د بې پلوه او يا په جګړه کې د نا ښکليو هيوادونو د پوځي نښانونو،دفتري نښانونو يا يونيفورم کارونه منع ده.

۲.دبريد پرمهال د ځان ساتنې،زړه سوي،حمايت او يا د پوځي عملياتو د مخنيوي لپاره د دښمنو ډلو اړوند بېرغونو،پوځي نښانونو،دفتري نښانونو يا يونيفورم کارونه منع ده.

۳.د دغې مادي او د ۳۷ مادي د لومړي پراګراف د [د][3] جز هيڅ مواد بايد د نړيوالو پيژندل شوو موجودو قاعدو،په جاسوسۍ پورې اړوند يا په سمندري وسله والو نښتو کې د بيرغونو د کاروني په نړيوال قانون باندې اغيزه ونه کړي.

### پوپناکول[4]

**۴۰ ماده** = د ساکښو د پوپنا کولو حکم په دې توګه چې هيڅوک بايد ژوندي پاتې نشي او يا هغو سره په دښمن لوري کې ويره اچونه او يا دغې موخې ته رسيدو لپاره په جګړه لاس پورې کول منع دي.

### د جګړې د ليکې څخه د وتلي دښمن ساتنه

**۴۱ ماده**–.پر هغه کس باندې بايد بريد تر سره نه شي چې د جګړې د ليکې څخه وتلې پېژندل کيږي او يا پداسې شرايطو کې وي چې د جګړې د ليکې څخه وتلې وپېژندل شي.

---

[14] ۱ژينوا ،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندې ورزيات شوي تړنونه،مخ،۳۵

۲ژينوا ،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندې ورزيات شوي تړنونه،مخ،۳۶

۳ ژينوا ،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندې ورزيات شوي تړنونه،مخ،۳۵،د ۳۷ مادې د د جز:د نښو ،نښانونو يا د ملګرو ملتونو يا د بې پلوه او په نښته کې د نه ګډون کوونکي هيواد د يونيفورم په واسطه د حمايت شوې کس په دريځ کې د ځان څرګندول.

۴ ژينوا ،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندې ورزيات شوي تړنونه،مخ،۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.یوسړي هغه مهال تسلیم ګڼل کیږي چې:
الف-د دښمن لوري په ولکه کې وي.
ب-په ښکاره توګه خپله تسلیمي څرګند کړي.
ج-بېحاله وي او یا د ټپونو او یا ناروغۍ له امله کمزوري شوي وي او د خپلې دفاع وس ونه لري.
په دي شرط چې په دغوټولو حالاتو کې ځان له جګړې څخه لري وساتي او د تیښتې هڅه ونه کړي.

۳.هغه کسان چې د جګړې د اسیرانو په توګه له حمایت څخه برخمن دي اود جګړې د غیري عادي شرایطو په پایله کې د مخالفو ځواکونو په لاس کې لویږي او د دویمي لوظنامې د دریم څپرکي د لومړۍ برخې۱[15] احکام د هغوي د لیږدونې مخنیوي کوي باید خوشي شي او هغه ګامونه دې پورته کړاي شي چې د هغوي خوندیتوب ډاډمن کړي.

**د الوتکې سپرلۍ**

**۴۲ماده**-.۱- هغه کسان باید د راکوزیدو پرمهال تر برید لاندې رانشي چې په بیړني حالت کې د پاراشوټ له لارې ځمکې ته راکوزیږي.
۲.هغه کس ته چې په بیړني حالت کې له الوتکې څخه د مخالف لوري تر ولکې لاندې سیمه کې راکښته کیږي پرته له دي چې په کوم بل له دښمنۍ څخه ډک کار لاس پوري کړي باید وخت ورکړشي چې تر برید د مخه خپل ځان تسلیم کړي.

۳.د هوایي دیسانت غړي د دغې مادې ترحمایت لاندې راځي.

دویمه برخه-د جګړه مار او د جګړې د اسیر دریځ

**وسله وال ځواکونه**[16]

**۴۳ ماده-۱** .په جګړه کې د ښکلیو لوریو وسله وال ځواک له ټولو منظمو وسله والو ځواکونو ،ډلو او یوکي و څخه جوړیږي چې د هغو بولندویانو تر امر لاندې وي چې د خپلو ترلاس لاندې ځواکونو د کړنو لپاره د بل لوري په وړاندې مسوولیت ولري آن که یو داسې حکومت او مقام د

---

[15] ۱ ژینوا ،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نیتیي په لوظنامو باندي ورزیات شوي تړنونه،دویمي لوظنامي د دریم څپرکي د لومړۍ برخه چې د ټپیانو،ناروغان،په هکله

[16] ۱ژینوا ،د ۱۹۴۹اګست د ۱۲نیتیي په لوظنامو باندي ورزیات شوي تړنونه،مخ،۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې ډلې استازيتوب وکړي چې مقابل لوري په رسميت نه وي پيژندلي دا ډول وسله وال ځواکونه بايد د داخلي ضوابطو تابع وي او د وسله والو نښتو اړوند نړيوال قانون د اصولو سره سم عمل وکړي.

۲.د(دريمې لوظنامې په ۳۳ ماده کې نومول شوو روغتيايي او مذهبي کارکوونکو څخه پرته)په جګړه کې د ښکليو ډلې د وسله والو ځواکونو غړي ټول جګړه ماران ګڼل کيږي په دي مانا چې هغوي حق لري په جګړه کې نيغ په نيغه ګډون وکړي.

۳.په هغه صورت کې چې په جګړه کې ښکيله يوه خوا په خپل وسله وال ځواک کې نيمه پوځي يا د قانون پلي کوونکي ور ګډ کړي د جګړې بلې ښکيلې خوا ته بايد خبر ورکړي.

**جګړه ماران او د جګړې اسيران**

**۴۴ ماده–۱** .په ۴۳ ماده کې په ګوته شوې جګړه مار چې د مخالف لوري د ځواک په لاس کې کيوزي بايد د جګړې اسير وګڼل شي.

۲.پداسې حال کې چې ټول جګړه ماران دنده لري تر څو د وسله والو نښتو اړوند قانون د قاعدو سره سم چلند وکړي لدې قاعدو څخه سر غړونه بايد يو جګړه مار د جګړه مار له حق څخه بې برخې نکړي او که د دښمن لوري په لاس کې لويږي د ۳او۴پراګرافونو د حالاتو پرته بايد د جګړې د اسير په توګه د خپل حق څخه بې برخې نشي.

۳.د جګړې له اغيزو څخه د ملکي وګړو د حمايت د پراختيا لپاره په جګړه کې ښکيلې خواوې بايد د بريد په بهير او يا پوځي بريد ته د چمتو والي پرمهال ځانونه له ملکيانو څخه توپير کړي.د دغه ټکي په پام کې نيولو سره که يو وسله وال جګړه مار د جګړې د جګړه ايزې ځانګړتيا له امله ونه شي کولاي د اسير په توګه د خپل دريځ ساتنه وکړي په دې شرط چې په دغه لاندې حالتونو کې به خپله وسله په ښکاره له ځانه سره ليږدوي.

(الف)د پوځي نښتو پرمهال.

(ب)هغه وخت چې په يوه پيل شوي پوځي بريد کې اخلي مخالف لوري ته بايد د ليدو وړ وي.

۴.هغه جګړه مار چې د دښمن په لاس کيوزي او دويم پراګراف د دويمې جملې غوښتنې پوره نه کړاي شي خپل حق د جګړې د اسير په توګه له لاسه ورکوي خوسره لدې هم د دريمې لوظنامې او له دغه تړون سره سمون کې د هغوي څخه بايد د جګړې د اسيرانو په  څير حمايت وشي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمايت هغه حمايت ته ورته دي چې په دريمه لوظنامه د جګړې د اسيرانو لپاره په پام کې نيول شوي دي او په هغه کې به کس په راتلونکې کې محکمې ته حاضر او د ترسره کړي جرم لپاره به سزا ورکول کيږي.

۵.هر جګړه مار چې د مخالفي ډلې د ځواکونو په لاس کې لويږي او هغه په بريد کې ګډون نه وي کړي او د پوځي يرغل په چمتووالي کې يې برخه نه وي اخيستې د مخکينو کړنو په پام کې نيولو سره بايد د جګړې د اسيرحق له لاسه ورنه کړي.

۶.دغه د هغه کس حق ته زيان نه رسوي چې د دريمې لوظنامې د څلورمې مادې له مخې د جګړې د اسير په توګه پيژندل کيږي.

۷.د دغې مادې موخه دا نه ده چې د يونيفورم اغوستلو په هکله د دولتونو لخوا عمومي منل شوي لارې چارې د هغو جګړه مارانو لخوا بدلون ومومي چې په جګړه کې د ښکيلو لوريو په منظمو او ورته وسله والو يوکيو کې ګومارل کيږي.

۸.د لومړۍ او دويمې لوظنامې په ۱۳ ماده کې د نومول شويو وګړو د کته ګوريو برسيره په نښته کې د ښکيلو لوريو د وسله وال پوځ ټول غړي چې د دغه تړون د ۴۳ مادې پربنسټ ټپي يا ناروغ وي د لوظنامو له مخې د حمايت د حق خاوندان دي پداسې حال کې چې په سمندر او نورو اوبو کې د ډوبې شوې کښتۍ سپرلۍ د دريمې لوظنامې سره سم د حمايت حق لري.

**جګړو کې د ګډون کوونکو کسانو حمايت**

۱.هغه کس چې په جګړه کې ونډه اخلي او د مخالف لوري په لاس کې لويږي او د جګړې د اسير د دريځ غوښتنه کوي او يا څرګنديږي چې د دغه دريځ حق لري او يا د ده اړوند لوري د ده په استازيتوب نيوونکي لوري يا حمايوي ځواک ته د هغه د دغې په ادعا په هکله يادښت استوي بايد د جګړې د اسير په توګه ومنل شي او د دريمې لوظنامې تر حمايت لاندې دې راشي او که داسې شک پيداشي چې چې ګوندې دغه سړي د جګړې د اسير د ريځ وړتيا لري يا نه،هغه بايد د پخوا په څير له خپل دريځ څخه ګټه واخلي او تر هغه پوري چې د يوې واکمنې محکمې لخوا يې دريځ روښانه کيږي د دريمې لوظنامې او دغه تړون تر حمايت لاندې راځي.

۲. هغه کس چې د مخالف لوري /به لاس کي لويږي او د جګړه ييز جرم لپاره د چګړې اسير نه وي پيژندل شوي او د هغه لوري له خوا تر محاکمې لاندې نيول کيږي هغه حق لري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضايي محكمي په وړاندي د خپل ځان لپاره د جګړي د اسير دريز ددعوي وکړي چي د هغه په هکله غور او څيړنه وشي .د دغي جرم غور او څيړنه كه شوني وي بايد د محاكمي څخه دمخه تر سره شي . پرته د دولتي خونديتوب څخه چي محاكمه د تړلو دروازو تر شا تر سره كيږي د حمايوي ځواک استازو ته د حق وركړل شي چي د محاكمي په بهير كي شتون ولري .پع دغو شرايطو كي بندي كوونكي ځواک بايد حمايوي ځواک ته معلومات وركړي .

۳. هغه كس چي په جګړه كي ګډون كړي وي او د جګړي د اسيرد دريز وړ ونه ګڼل شي او يا د څلورمي لوظنامي له مخي د وړ چال چلند څخه برخه مند نه شي . د دغي تړون د ۷۵ مادي سره سم په ټوو حالاتو كي د حمايت حق لري داسييو كس به نيو شويو سيمو كي پرته له دي چي د جاسوس په توګه نيول شوي وي د څلورمي لوظنامي د ۵ مادي برسيره ددغي لوظنامي سره سم د مكاتبي د حق څخه برخه مند كيږي

**دويم مطلب- تر ځانګړي حمايت لاندي سيمي او زونونه**
**بي دفاع سيمي**

**۵۹ – ماده- ۱**.په جګړه كې د جګړې د ښكيلو لوريو له خوا په بې دفاع سيمو باندې بريد په هره وسيله چې وي منع دي .

۲.په جګړه كي د ښكيل يوه لوري واكمن چارواكي ښايي زون ته نږدييا هغه دننه د استوګني يوه سيمه چي وسلوال ځواكونه په كييو د بل سره مخامخ وي او د مخالف لوري د نيولو او اشغال په وړاندي پرانيستي وي . د بي دفاع سيمي په توګه اعلان كړي .داسي سيمي بايد د لاندي شرايطو درلودونكي وي .

(الف) ټول سرتيري او جګړه ماران او همداراز ګرځنده وسلي او ګرځنده فوځي تجهيزات بايد د هغه ځايه ايستل شوي وي (ب) د ځاي په ځاي شوي فوځي تاسيساتو او لوازمو څخه بايد د جګړي لپاره ګټه وانه خيستل شي.

(ج) د چارواكو او خلكو له خوا بايد جګړه ييز عمل سره ته ونه رسيږي .

(د ) د فوځي عملياتو په ملاتړ دي هيڅ راز فعاليتونه نه تر سره كيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د لوظنامو او یا د دغه تړون ترځانګړي حمایت لاندې کسانو شتون او د نظم او قانون د ساتني لپاره د پوليسو د ځواکونو شتون په دغه سيمه کي د دويم پرګراف د شرايطو سره په مغايرت کي نه دي .

ځانګړي حمايت لاندي کسانو شتون او د نظم او قانون د ساتني لپاره د پوليسو د ځواکونو شتون په دغه سيمه کي د دويم پرګراف د شرايطو سره په مغايرت کي نه دي .

۴. د دويم پرګراف د اعلان چي مخالف لوري ته وينا ده او بايد د شونتيا تر بريده په هغه کي د بي دفاع سيمي محدويت په دقيقه توګه تعريف او تشريح شوي وي . په جګړه کي ښکيل مخالف لوري د اعلان د ترلاسه کولو څخه ډاډ ورکوي او پرته له دي چي د دويم پراګراف شرايط ترسره شوي وي دغه سيمي د دبي دفاع سيمو په توګه ومني .

په دغه حالت کي دي ژرتر ژره د بي دفاع سيمي د اعلانوونکي لوري ته خبر ورکړي . سره له دي چي د دويم پرګراف شرايط تر لاسه شوي نه وي هغه سيمه دي دهغه د حمايت څخه برخمنه شي چي دد غه تړون د نورو احکامو او د وسلوالو نښتو کي د پلي کيدونکي نړيوال قانون د اصولو څخه برخمن شي .

۵. د جګړي ښکيل لوري کولاي شي د بي دفاع سيمو په جوړولو سره سلا شي . آن که دغو سيمو د دويم پرګراف شرايط هم پوره نه کړي . تړون بايد د شونتيا تر بريده په دقيقه توګه د بي دفاع سيمي محدوديت تعريف او تشريح کړي . او د اړتيا په صورت کي دي د څارني لاري چاري وکاروي.

۶. هغه لوري چي د دغه تړون د شرايطو سره سم يي د سيمي اداره په لاس کي ده . د هغي شا او خوا دي د شونتيا تر بريده د داسي نښو په واسطه نښه کړي چي د بل لوري سره پري سلا شوي وي او په تيره بيا د هغو ځايونو او لويو لارو ترڅنګ دي ودرول شي چي د ليدلو وړ وي .

۷. يوه بي دفاع سيمه خپل دريز د بي دفاع سيمي په توګه هغه وخت له لاسه ورکوي چي د دويم پرګراف د شرايطو او يا د تړون د پنځم پرګراف د موادو په پوره کولو کي پاتي راشي .په داسي حالاتو کي دغه سيمه د هغه حمايت څخه برخمنه کيږي چي د دغه تړون د نورو احکامو او په وسلوالو نښتو کي د نړيوال قانون د پلي کيدو وړ نورو اصول ورته چمتو کړي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غیر فوځي زونونه

**۶۰ ماده – ۱** . په جګړه کې ښکیل لوري نه شي کولاي خپل فوځي عملیات هغه زونونو ته وغزوي چي هغه يي د غیر فوځي زونون به توګه پیژندلي او منلي وي . د دغه تړون د شرایطو په خلاف دغه غزونه ممنوع ده .

۲. تړون باید څرګند او کوټلي وي، د حمایوي ځواک او یا بي پلوه موسسي له خوا په نیغه، ژبنیزه یا لیکلي توګه ترسره شوي او د دواړو له لورو له خوا په یوه وخت اعلان شي .

دغه تړون ښایي د شونتیا تر بریده د نافوځي شویو زونونو څلور خواوي او د اړتیا په صورت کي د څارني لاري چاري په کي بیان او څرګندي شوي وي .

۳. د دغه ډول د تړون موضوع ښایي د داسي ځانګړتیاو درلودونکي وي چي .

(الف) د هغه ځایه باید ټول جګړه ماران او همدا راز ګرځنده وسلي او ګرځنده فوځي تجهیزات ایستل شوي وي .

(ب )په هغه کي باید موجودو تل پاتي فوځي تاسساتو څخه د جګړي لپاره کار وانه خیستل شي

(ج) په هغه کي باید د چارواکو او استوګنو خلکو له خوا دشمانه چال او چلند سره ته ونه رسیږي

(د ) په هغه کي باید د فوځي هڅو اړوند هر عمل درول شوي وي .

په جګړه کې ښکیل لوري باید د پورته پراګراف د (دال) د فقري د شرایطو په تعبیر او د څلورم پراګراف پرته د هغه خلکو اړوند سلا وکړي چي غیر فوځي شوو زونونو ته د ورننوتو اجازه لري

۴. د لوظنامو او د دغه تړون ترځانګړي حمایت لاندي کسانو شتون او په زون کي د نظم او قانون د ټینګښت لپاره د پولیسو د ځواکونو ساتنه د دریم پراګراف د شرایطو سره ټوپیر نه لري

.

۵ هغه لوري چي دغه زون يي تر ولکي لاندي دي باید د شونتیا تر بریده دغه سیمه په هغه ښو سره سمبال کړي چي سلا پري شوي وي او څرګند ډول بي د لیدو وړ سیمو په ځانګړي توګه د زون د سیمي چاپیر او د لویو لارو تر څنګ ځاي پر ځاي کړي .

۶. که جګړي د نافوځي شوي زون ګاونډ ته راوکښل شي په هغه صورت کي چي اړوند لوري پر ي سلا شوي وي هیڅ لوري دغه زون د فوځي عملیاتو لپاره کارولاي نه شي او په یو اړخیز ډول تړون فسخه کولاي نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷. که د جګړې کوم ښکیل لوري د دریم یا شپږم پراګراف د احکامو څخه سرغړونه وکړي مقابل لوري باید په ترون کې د نافوځي شوو د دریز د مکلفیتونو څخه خلاص وګڼل شي .په داسي یو احتمال کي زون خپل دریز د لاسه ورکوي خو کولاي شي د دغه ترون د نورو احکامو او وسلوالو نښتو کي د نافذ نړیوال قانون د نورو اصولو څخه برخمن شي .

**دریم مطلب : په نښته کي د ښکیل لوري په لاس کي خلکو سره چلند**

**لمړي جزا**–د پلي کیدو او د کسانو او شیانو حمایت

**د پلي کیدو ډګر**

**۷۲ ماده** – د دغي برخي حکمونه په څلورمه لوظنامه کي راغلي دي . به نښته کي د ښکیل لوري په لاس کي د ملکي وګړو او ملکي شیانو د بشر پالني د حمایت په اړوند کښل شوي قړاعد په ځانکړي توګه د هغه اړوند لمړي او دریمه برخه او همدارنګګه د نړیوالو وسلوالو نښتو په بهیر کي د بشري بنستیزو حقونو د حمایت به اړوند د نړیوال قانون د پلي کیدو نکي قاعدي دي .

**کډوال او تابیعیت نه لرونکي کسان**

**۷۳ ماده** – هغه کسان چي د جګړو د پیل څخه مخکي د منل شوو نړیوالو سندونو په درلودلو سره د ښکیل لوري او یا د میلمه پال دولت تر ملي قوانینو لاندي او یا د استوګني د دولت له خوا تابعیت نه لرونکي یا کډوال پیژندل شوي دي باید په ټولو شرایطو کي د څلورمي لوظنامي دلمړي او دریمي برخي د حکمونو په بام کي نیولو سره د هر ډول امتیاز او او توپیر څخه پرته تر حمایت لاندي ونیول شي .

**تیت او پرک شوي کورنیو د غړو بیا یو ځاي کول**

**۷۴ ماده** –ژمن لوري او په جګړه کي ښکیلو خواوي باید د هغي کورنیو د بیا یو ځاي کولو په کار هره شوني اسانتیا رامنځ ته کړي چي د وسلواللو نښتو به پایله کي بیل شوي دي . په تیره بیا د ژینوا د لوظنامو او د دغه ترون له حکمونو او امنیتي مقرراتو سره سم دي د ښکیلو بشري موسسو کارونه وهڅوي .

**دویمه جزا** : د ښځو او ماشومانو په ګټه ګامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ښځو حمايت**

**۱۷۶ ماده – ۱** .د ښځو بايد ځانګړي درناوي وشي او د تيري او اجباري فحشا او د ناوړه عملونو د نورو ډولونو په وړاندي بايد تر ځانګړي حمايت لاندي راشي .

۲ د هغو اميدوارو او ماشوم لرونکو ميندو پيښو ته بايد د لمړيتوب حق ورکړل شي چي د جګړي سره تړاو کي نيوليبا بندي شوي وي

۳ په جګړه کي ښکيل لوري بايد د امکان تر بريده هڅه وکړي چي د اميدواره ميرمنو او شيدي ورکوونکي ميندو د وسلوالي جګړي اړوند د مرګ د سزا ورکولوو څخه منع وکړي دد اسي جرمونو اړوند د مرګ سزا بايد په دغه ميرمنو باندي پلي نه شي .

**ماشومانو حمايت**

**۷۷ ماده – ۱**. ماشومان بايد تر ځانګړي حمايت لاندي وي او د هر ډول ناوړو کړنو څخه وساتل شي .

۲ په جګړه کي ښکيل لوري بايد د هغوي د عمر او نورو حالتونو له پلوه هغوي ته د دوي له څرنګوالي سره سم څارنه چمتو کړي .

۲ يه جګړه کي ښکيل لوري بايد د ټولو هغو لارو جارو څخه ګټه وواخلي چي د پنځلس کلونو څخه د لږ عمر ماشومان په جګړه کي نيغه ونډه وانه خلي او په وسلوال فوځ کي د هغوي دګمارلو څخه ډوډه وشي .

هغو ماشومانو ته بايد په وسلوال فوځ کي د ګډون او ګمارلو د لمړيتوب حق ورکړل شي چي د ۱۵ کلنونو عمر يي بشپړ کړي وي او هغه چي۱۸ کلني ته نه وي ررسيدلي بايد هغو ته چي د عمر د زياتوالي د مخي تر نورو لمړيتوب ورکړل شي .

۳ هغه ماشومان چي د ۲ پرګراف د احکامو سره سره په استثنايي حالتونو کي۱۵ کلني ته نه وي رسيدلي او په جګړو کي ګډون وکړي او د مخالف لوري له خوا ونيول شي ، له دي پرته چي د جګړي اسير وي او که نه د دغي مادي له احکامو سره سم دي له ځانګړي حمايت څخه برخمن شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ د ۷۵ مادي د ۵ پرګراف د حالتونو پرته چي ماشومان په یوه وړه کورني کي استوګنه وکړي . داډله ماشومان د نیول کیدو ، توقیف یا بندي کیدو په صورت کي باید د لویانو د اوسیدون ځای څخه جلا وساتل شي .

۵ پر هغو ماشومانو چي د جرم په وخت کیبي د ۱۸ کلني عمر نه وي بشپړ کړي باید د وسلوالي جګړي اړوند جرم له امله د مرګ سزا پلي نه شي .

**۷۸ ماده – د ماشومانو لیږدونه**

۱ د متبوع دولت څخه پرته ، په جګړه کي ښکیله کومه ډله نه شي کولای د ماشومانو د روغیتایي درملني د جبري عوملو پرته ، هغه هم په نیول شوي سیمو کي ، ړ خوندیتوب د غوښتني به صورت کي بهرني هیواد ته د ماشومانو لیږدونه سرته ورسوي . د ماشومانو د میندو ، د پلرونو او یا قانوني ولیانو د پیدا کیدو په صورت کي د هغوي لیکلي موافقه او خوښه په دي اړه ضروري ده . د دغه کسانو د نه پیدا ایښت په صورت کي د هغ چا لیکلي موافقه ضروري ده چي د قاونون له مخي د ماشومانو د څارني مسؤلیت ورپه غاړه دي . د هر لیږدوني بهیر باید د ښکیلو لورو په موافقت د حمایوي ځواک تر څارني لاندي ونیول شي ، لکه هغه ډلي چي دا لیږدونه سمبالوي ، هغه لوري چي دا ماشومان مني او هغه ډله چي دا ماشومان ورپوري اړه لري . په جګړه کي هر ښکیل لوري هر حالت کي د هر شوني اقدام څخه به ګټي اخستیني سره د خطري سره د ماشومانو د مخامخ کیدو مخنیوي وکړي . ۲ لیږدونه چي د دغي پرګراف له مخي تر سره کیږي باید د هغوي د مور او پلار له غوښتني سره سم د جلا والي په بهیر کي د شوني پرلپسي والي به پام کي نیولو سره د دیني او اخلاقي زده کړو به ګډون د هر ماشوم لپاره ښوونه او روزنه چمتو شي .

۳ د ماشومانو کورنیو او هیواد ته د بیرته ستنیدو د ټکي په پام کي نیول سره د دغي مادي له حکم سره سمي د ماشومانو لیږدونه تر سره شوي ده . هغه لوري چي دغه لیږدونه سمبال کړي ده او د هغه هیواد چارواکي چي دغه ماشومان یي منلي دي باید هر ماشوم ته د عکس سره یو داسي کارت جوړ کړي چي د سره سلیب نړیوالي کمیټي د ورکو شوو خلکو د پل اخیستني مرکزي څانګي ته به واستول شي ،په دي شرط چي ماشومان د خطري سره مخامخ نه کړي . هر کارت باید د شونتیا په صورت کي دغه لاندي معلومات ولري .

(الف) د ماشوم تخلص (کورني نوم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ب) د ماشوم نوم

(ج) د ماشوم جنس

(د) د ماشوم د زیږیدني نیټه ( که د زیږیدو نیټه یې څرګنده نه وي ، د هغه تقریبي عمر )

(ه) د ماشوم د پلار بشپړ نوم

(و) د ماشوم د مور نوم او د واده دمخه د هغې نوم

(ز) د ماشوم نږدې خپلوان

(ح) د ماشوم ملیت

(ط) د ماشوم مورنۍ ژبه او هره بله ژبه چې پرې خبرې کوي

(ي) د ماشوم د کورنۍ پته

(ک) د ماشوم د پیژندنې شمیره

(ل) د ماشوم روغتیایي څرنګوالی

(م) د ماشوم د وینې ګروپ

(ن) د ماشوم بیلونکي نښې

(س) د ماشوم د موندلو ځای او نیټه

(ع) د ماشوم د هیواد د پریښودو ځای او نیټه

(ف) د ماشوم دین (که یې ولري)

(ض) په استوګن هیواد کې د ماشوم پته

(ق) که ماشوم له ستنیدو دمخه مړ شي ، د هغه دمړینې نیټه ،ځای او د مړینې څرنګوالی .

**دریمه جزا** – ژورنالیستان ( خبریالان )

**د خبریالانو د حمایت لاري چاري**

**۷۹ ماده – ۱**. هغه شمیر خبریالان چې د جګړې به سیمو کې د خطرناکو مسلکي دندو په سرته رسولو بوخت وي باید د (۵۰) مادې د لمړي بند دحکم له مخې ملکیان وګڼل شي .

۲- هغوی په دې شرط باید لوظنامې او تړون تر حمایت لاندې وي چې د لمکې په توګه د خپل دریځ مخالف عمل سرته ونه رسوي او د جګړې د ریپورت ورکونکي له هغه حق څخه تیری ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي چي د دريمي لوظنامي د څلورمي مادي په څلورم بند کي وسلوالو ځواکونو ته ورکړل شوي دي .۳- د دغي تړون د دويمي ضميمي له بيلګي سره سم هغوي بايد هغه پيزند پاڼه ولري چي ښايي د هغويد اړوند هيواد يا د هغه هيواد له خوا ورکړل شوي وي چي دي په کياستوګنه لري او به هغه کييي د ګمارونکي خبري موسسي نوم ليکل شوي او د خبريال به توګه يي د ده دريځ منلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

د جګړې اړوند مدون حقوقو د دجینیوا لومړې کنفرانس څخه سرچینه اخلي . دغه کنفرانس په حقیقت کي له نړیوالو جګړو او شخړو کي د ښکیلولو او دو او عامو خلکو د حقوقو د خوندیتوب په برخه کې یو لوي پرمختګ و .

د ۱۹ په م نمیایي کې د خوځښت سبب شو. یعني د دولتونو تر منځ دجګړې دحقوقو په اړه ګن شمیر دوه اړخیز او څو اړخیز نړیوال تړنو نه لاسلیک شي . په داسي حال کي چي اوس مهال دنړۍ د ۱۹۰ هیوادونه دجینیوادکنوراسیونو غړي دي خو بیا هم په شخړو او جګړو کي ښکیل دولتونو ځیني وخت د کنواسیون د ژمنو خلاف عمل کوي . په جګړو کي د ملکي حلکو ژوند ته پاملرنه نه کیږي او هغه زیان رسوونکي وسلې کارول چي منع شوي دي .

سوره ، عراق، یمن او فلسطین هغه هیوادونه وي چې په وروستو کي آن کلتریمونه او کیمیا وې وسیلی هم په کي وکارول شوي و . په د ۲۰۱۳ م کال کي لویدیځو هیوادونو او ملګرو ملتونو ادعا وکړه چي د سوریې دولت په دغه هیواد کي د مخالفینو پر ضد کیمیاوي وسلی کارولي د ي دهمدي کال په مې میاشت کي د ملګرو ملتونو یو يي پلټونکي ډلې وویل چي ګومان کیږي سوې دولتي ځواکونه د «سا دین په نوم هغه ګاز کارولي دي چي دا نسان مه غزه زیانمنو ی وروسته په تولنیزو ورسیتو کي داسي ویدي ګاني هم خیري شوي چي په سوریه کي کارول مؤوکیمیاوي وسلو له امله او زیانمن ماشومان په کي لیدل کیږي .

دا په جګړو کې د زهرجنو يې خوبي کوونکي او بیولوژیکي وسلو دکارونې د مخنیوي په اړه ځینو د ( **۱۹۲۵** ) کال دویرو کول خلاف کړنه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانديزونه

د التقوا د لوړو زده کړو مؤسسی څخه هيله کوم تر څو د محصلينو د را پوهيدو په منظور نورو محصلينو ته هم د اړونده موضوع په اړه سمنيارونه او موضوعاګاني ورکړي دي .

۱- د نړيوالی ټولني څخه هيله کوم چې هغه هيوادونه چي د دا ډول اصولو رعايت نه کوي بايد هغوي هيله وکړي اود اصولو په رعايت يې مجبور کړي.

۳- په جګړه کي ښکيلوهيوادونه څخه هيله منديم چي د دا ډول اصولو رعايت خپل د ښي او انساني وجيبه وګڼي .

۴- د هيوادونو فوځي ارګانونو څخه هيله کوم چي دجګړپه اصولوپه اړوند دخپلو پوځيانو د پوهي د زيانونو په منظور پروګرامونه لنډ مهال او اوږد مهال کورسونه ، دايرکړي ځکه دا د بشر په ګټه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځليکونه.


۱- ابراهيمي ، محمد ( ۱۳۷۷ ) ،اسلام و حقوق بين المللی عمومي جلد،دوم ايران، تهران انتشارات سمت.

۲- ابن قدامه ، احمد بن محمد ( ۱۴۲۵ ) المغنی ، راش، مکتبة الرياض الحديثه

۳- ارسجانې، حسن ، د دولتونو حاکميت واکمني ) دحبيبي کتابونو د سهامې شرکت ، ( ۱۳۴۸ (

۴- بيگدلي ، محمد رضاضيائی ( ۱۳۸۴ ) حقوق بين المللی عمومي ايران تهران کتابخانه گنج دانش

۵- تره کي ، محمد عثمان ( ۱۳۸۷ ) په افغانستان کي د جگړې د جنايتکارانو محاکمه افغانستان ، کابل.

۶- ټونکن اونور ، نړيوال عمومي حقوق ، د پوهنوال دوکتور ودير صافی ژباړه ، دکابل پوهنتون

۷= دفتری احمد متين ، د نړيوالو حقوقو د اړيکو بهير، تهران د حبيبې انتشارات ، ۱۳۴۱ )

۸- ژينوا،د (۱۹۴۹ )اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندي ورزيات شوي تړنونه،

۸ - ژينوا،د( ۱۹۴۹ ) اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندي ورزيات شوي تړنونه

۹- ژينوا،د (۱۹۴۹ )اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندي ورزيات شوي تړنونه،

۱۰ (۱۹۴۹ ) اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندي ورزيات شوي تړنونه،

۱۱- ژينوا،د (۱۹۴۹ )اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندي ورزيات شوي تړنونه،

۱۲- ژينوا،د (۱۹۴۹ ) اګست د ۱۲نيټې په لوظنامو باندي ورزيات شوي تړنونه

۱۳- قرانکريم او حديث څخه هم رانقل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


سریزه ........ 1

موضوع تګلاره : ........ 2

د موضوع پلان : ........ 2

لـومړی فصل ........ 3

عمومي معلومات ........ 3

لومړي مبحث: جګړې د نړیوالو حقوقو پيژندنه ........ 3

دويم مبحث- تاريخي سير ........ 4

دريم مبحث- جګړې د نړيوالو حقوقو منابع ........ 7

لومړي مطلب- دبشردوستانه حقوقو بنستيزاصول ........ 7

دوهم مطلب – عرف او عادات ........ 8

دريم مطلب- نړيوال معاهدات۲ ........ 9

ځلورمطلب : د حقوقو کلي اصول ........ 9

لومړی مبحث -جګړې حقوق یا نړیوال بشرپال ........ 11

دويم مبحث -دجګړې مفهوم دنړیوالو حقوقوله نظره ........ 11

لومړی مطلب -تشکیلاتي يا اورګانيک عنصر: ........ 11

دويم مطلب-معنوي عنصر يادجګړې اراده: ........ 12

دريم جز-مادي عنصر(نبته) ........ 13

ځلورم جز- جګړې موخه: ........ 14

لومړي جز-دانساني سلوکاونه تبع یضاصل: ........ 14

دويم جز-دپوځي اقدام اصل: ........ 15

دريم جز-محدوديت اصل ........ 15

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم جز-تفکیک اصل: ........ 15
پنځم جز- دتناسب اصل: ........ 15
شپږم جز-دښه نیت اصل: ........ 15
هغه ډلې اوځایونه چې دجګړې دحقونوله ملاتړڅخه برخمن دي ........ 15
څارونکې بنسټونه ........ 16
۱-دولتونه ........ 16
دریم فصل ........ 16
جګړېزه اصول د اسلامي شریعت نړیوالو دوستانه نظر ........ 16
لومړی مبحث- د اسلام له نظره ........ 16
لومړی مطلب :د اسلامي په مقدس دین کي د جنګ ( جهاد ) پیژندنه او اهداف ........ 18
لومړی جزا –د جهاد فی سبیل الله مفهوم او مانا ........ 18
دویم جزا- په اسلام کې د جګړې ( جهاد ) موخې او اهداف ........ 20
دویم مطلب - د جګړې حقوق د جینوا د کنوانسیون له مخې ........ 20
پیژندل شوي نښانونه۱ ........ 22
ملي نښانونه۲ ........ 22
پوپناکول۴ ........ 22
د جګړې د لیکې څخه د وتلې دښمن ساتنه ........ 22
د الوتکې سپرلی ........ 23
۴۲ماده ........ 23
وسله وال ځواکونه۱ ........ 23
جګړه ماران او د جګړې اسیران ........ 24
جګړو کې د ګډون کوونکو کسانو حمایت ........ 25

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مطلب– تر ځانګړي حمایت لاندې سیمې او زونونه.......... 26
بې دفاع سیمې.......... 26
غیر فوځي زونونه.......... 28
دریم مطلب : په نښته کې د ښکیل لوري په لاس کې خلکو سره چلند .......... 29
د پلي کېدو ډګر.......... 29
کډوال او تابیعیت نه لرونکي کسان.......... 29
تیت او پرک شوي کورنیو د غړو بیا یو ځای کول .......... 29
د ښځو حمایت .......... 30
ماشومانو حمایت .......... 30
۷۸ ماده – د ماشومانو لیږدونه.......... 31
د خبریالانو د حمایت لارې چارې.......... 32
پایله.......... 34
وړاندیزونه.......... 35
اخځلیکونه.......... 36

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**